نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۵/۰۴/۲۳

# د امریکا نوی سیاست؛ بل ډیورنډ او بل وزیرستان؟

موږ لا له پاکستان سره د ډیورنډ پولې له ستونزې نه یو خلاص شوي چې اوس د یو بل ډیورنډ لاین اړوند بهرنیانو خپلې طرحې جوړې کړي دي او تر ځیرنې لاندې یې نیولې چې که عملي شي نتیجه به یې څه وي او د عملي کیدو له پاره یې څه کول په کار دي.

معلومیږي چې امریکا او د امریکا نږدې ملګري هیوادونه غواړي چې د افغانانو تر منځ په شمال کې د ډیورنډ یوه بله توره لیکه وکاږي، افغانان په جنوب او شمال سره وویشي.

د همدې پروژې د عملي کیدو له پاره یې ځکه دوه سرې حکومت جوړ کړی او معلومیږي که له ډاکټر اشرف غني سره د نورو ۵ کلنو انتخاباتو د ګټلو وعده هم امریکا وکړي، نو هغه به هم د همدې پروژې یو له فعاله پرزو څخه وي، بل خوا ډاکټر عبدالله به ځکه خوشحاله وي چې هغه به مستقل پاچاشي، ولې ډاکټر عبدالله ته ستونزه د عطا محمد نور ده، داسې برېښي چې شمال به په راتلونکي کې نور ته په برخه رسیږي.

انګریزانو چې پښتانه او پښتون مېشته سیمه دوې ټوټې کړه او د ډیورنډ بدنامه لیکه یې د پښتون قوم پر سینه راوکاږله، دا دې تر سلو زیات کلونه وشول چې همدا ستونزه روانه ده، پاکستان او افغانستان دواړه هیوادونه امنیتي ستونزې د ډیورنډ لاین له امله ګني.

که چیرته افغانستان تجزیه کیږي، په جنوب او شمال باندې وېشل کیږي، په شمال کې ډېر زیات او د پښتنو ډیر زړور او جنګیالي قومونه میشت دي، یا خو به همدغه پښتانه قومونه له شمالي ولایتونو څخه ایستل کیږي، ځمکې، جایدادونه، مالداري او (ممکن شتمني)، دا هر څه به ورڅخه ګرځول کیږي، دوی به اړوېستل کېږي چې د هیواد جنوب ته ګډه شي، په دغه صورت کې نو د همدې پښتنو قومونو او شمال د نورو غیر پښتنو قومونو تر منځ یوه لاینحله دښمني پاتې کیدای شي.

که چیرته داسې پلان وي چې پښتانه دې همداسې په شمال کې پاتې شي خو د شمالي افغانستان برخه دې شي، دا هم ستونزمنه ښکاري، بیا به همدا د افغانستان-پاکستان د ډیورنډ د امنیتي ستونزې مشکل وی، هر وخت به زموږ نور قومونه (تاجک، هزاره، ازبک او ترکمن) له پښتون قوم سره په ستونزه کې وي.

نږدې ۹ میاشتې مخکې مې په یوه لیکنه کې ویلي و چې امریکا په افغانستان کې د بدخشان له سیمې څخه وزیرستان جوړول غواړي، د همدې وزیرستان ساحه کې به کنډز وي او هغه سیمې چې له پاکستان سره پولې ته نږدې وي، چې تخار او کنړ یادولای شو.

همدا ډول ما ویلي و چې همدا سیمې به طالبان تر کنټرول لاندې راولي او د دوی تر لمن لاندې به بهرنی مذهبي او اسلامپاله ازبک او چینایي ډلې فعالیت کوي، او امریکا غواړي له دې لارې له چین او روسیې سره خپله جګړه روانه وساتي.

اوس چې خبره د دویم ډیورنډ او دویم وزیرستان ده او دغه پلان د عمل په لوري د امریکا له خوا روان دی، موږ افغانان په درانه خوب ویده یو.

روسان هم ښه پوهیږي چې په شمال کې د یو بل وزیرستان ډېره کېښودل کیږي، همدارنګه روسان پوهیږي چې امریکا او نږدې ملګري هیوادونه یې پلان لري چې افغانستان په دوو برخو وویشي، د روسانو افغان پیژندونکي ځیرونکي او د افغانستان د چارو کارپوهان یې لګیا دي، خپلې ځیرنې کوي، نظرونه اخلي چې د افغانستان وېش په اوس وخت کې د روسانو په ګټه که تاوان دی.

تر ډیره داسې معلومیږي چې روسان هم پر دې فکر دي چې که افغانستان په جنوب او شمال وویشل شي نو شمالي افغانستان به له دوی سره ښې اړیکې ولري، او دوی به د جنوب د پښتنو له راتلونکي خطر څخه په امن کې وي.

ولې روسان تشویش لري چې د امریکا اقتصاد ته په ګټو سره چې اوس دا دي په منځنۍ آسیا کې یې د شوروري اتحاد په پخوانیو جمهوریتونو کې ډیر نفوذ کړي او د روسانو له پاره یې خلک پارولي چې تر تولو وروستی ناندری یې د اوکراین مسئله ده، روسان همدې ستونزو ته په ګټو سره دا فکر هم کوي، چې که افغانستان په دوو برخو وویشل شي ممکن شمالي افغانستان هم د امریکا تر نفوذ لاندې وي او د روسانو له پاره به سر خوږی وي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په خير و لولئ

زما په اند د همدې بل ډیورنډ او بل وزیرستان د پروژې د عملي کولو له پاره امریکا ته تر ټولو وړ شخص ډاکټر اشرف غني په نظر ورځي او معلومیږي چې همدې پلان ته ځینې تاجک ورونه او ځینې هزاره ورونه هم انتظار دي، دوی په ګډه غواړي چې د خپل واک د بقا له پاره د هیواد له هر ډول خپلواکۍ او ارضي تمامیت سره لوبې وکړي.
په کور دننه او بهر په ګردو اصیلو، خپلواکو او پر هیواد او ولس مینو افغانانو، د هیواد په ټولو قومونو ږغ کوم چې د دویم ډیورنډ او دویم وزیرستان د مخنیوي له پاره عملاً میدان ته راودانګي او معامله ګر سیاستوال پرې نه ږدي چې د ورونو قومونو پر سینه بله توره لیکه تیره کړي.
همدا ډول له ټولو افغانانو غواړم چې د ګډ حکومت مشرانو ته ښکاره کړي چې هیچا  ته به اجازه ورنه کړي چې له پاکستان سره د ډیورنډ لیکه پرته د افغان ولس د ګټو په نظر کې نیولو سره معامله وکړي.
پاچا ظاهر شاه او ولسمشر داوود غوښتل چې له پاکستان سره د ډیورنډ لیکې مسئله د افغانستان ګټو ته نظر کې نیولو سره حل کړي، همدا ډول د طالبانو په وخت کې هم ځینو طالبانو د سردار داوود د ډیورنډ لیکې د حل طرحه خوښوله، د کرزي حکومت هم د ډیورنډ لیکې د ستونزې د حل له پاره پاکستان ته خپلې غوښتنې وړاندې کړې وې، ولې پاکستان پرته د افغانستان له غوښتنو په نظر کې نیولو سره هڅه کوي چې د ډیورنډ لیکه د افغانستان او پاکستان ترمنځ د پولې په صفت قبول کړل شي.
همدا خبره چې پر ډیورنډ لیکه د پاکستان له خوا پوستې (باډرمنجمنټ پاینټ) جوړ شي، پخواني ولسمشر کرزي په ۲۰۱۲ ز کال کې په انګلستان کې له پاکستان سره منلې او لاسلیک کړې، اوس د پاکستان هڅه داده چې اشرف غني ورسره د ډیورنډ لیکه رسمي ومني.
بیا هم تکراروم چې که موږ همداسې په درانه خوب ویده یو، یوه ورځ به د دویم وزیرستان او دویم ډیورنډ د پلان بشپړ عملي کیدنې خبر هم له نړیوالو او کورنیو رسنیو اورو، بیا به مو وخت له لاسه ورکړی وي او هیڅ به نه شو کولای، خو اوس که موږ افغانان لاسونه سره یو کړو، معامله کوونکي سیاستوال پرې نه ږدو چې د ولس د ګټو پر سرد خپل واک د بقا له پاره افغانان دوه ټوټې کړي، وخت لرو، ولې داهم ستونزمنه ده چې همدا معامله کوونکي سیاستوال به اسانه له واک څخه ګوښه کړل شي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ